مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۹۷** (از ۲۴ الی ۳۱ حمل ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

آنچه در این شماره می‌خوانید:


مقدمه ........ ۲

**د قطر د غونډې ځنډېدل او د بین‌الافغاني تفاهم برخلیک**

په قطر کې بین‌الافغاني مذاکرات ........ ۴

د قطر غونډه ولې وځنډېده؟ ........ ۵

د بین‌الافغاني تفاهم برخلیک ........ ۶

وړاندیزونه ........ ۷

**کانکور؛ آزمونی برای رسیدن به تحصیلات عالی در افغانستان**

رسیدن به تحصیلات عالی در افغانستان ........ ۹

پروسهٔ کنونی امتحان کانکور ........ ۱۰

مشکلات موجود در پروسهٔ کانکور ........ ۱۱

## مقدمه

که له یوې خوا په قطر کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې مخامخ خبرو اترو د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره په پراخه کچه هیلې راټوکولې دي؛ خو له بلې خوا بیا د بین‌الافغاني تفاهم په برخه کې شته ستونزو او خنډونو دا بهیر ننګولی هم دی.

د بین‌الافغاني تفاهم په تړاو د جګړې دواړه اړخونه بېلابېل دریځونه لري. افغان حکومت غواړي له طالبانو سره هم د حزب اسلامي په څېر د سولې خبرو اترو ته لاره هواره کړي؛ خو طالبان بیا افغان حکومت په رسمیت نه پېژني او د بین‌الافغاني تفاهم لپاره له افغان سیاستوالو سره په خبرو اترو ټینګار لري. تازه په قطر کې د حکومتي او طالب استازو د مخامخ خبرو اترو فرصت برابر شوی و، چې له بده مرغه په دې پروسه کې شته خنډونو دا فرصت د اوس لپاره ضایع کړ.

دا چې په قطر کې جوړېدونکې غونډه ولې وځنډېده او د بین‌الافغاني تفاهم برخلیک به څه کېږي؟ هغه پوښتنې دي چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه بحث شوی دی.

د تحلیل په دویمه برخه کې هم په افغانستان کې د کانکور ازموینې په پروسه بحث شوی دی. د کانکور آزموینه په افغانستان کې دولتي پوهنتونونو ته د شاملېدو یوازینۍ لاره ده. دا هغه برخلیک ټاکونکې آزموینه ده، چې له لارې یې د هېواد د دولسمو ټولګیو زده‌کوونکي له فراغت وروسته دولتي پوهنتونونو ته د لوړو زده‌کړو په موخه ځانونه رسوي. که څه هم په تېرو څو کلونو کې د کانکور پروسې د شفافیت او سمون لپاره یوه اندازه کار شوی دی؛ خو لا هم په تېره بیا په ولایاتو کې ددې پروسې د تطبیق په برخه کې بېلابېلې ستونزې لیدل کېږي.

# د قطر د غونډې ځنډېدل او د بین‌الافغاني تفاهم برخلیک



ټاکل شوې وه د اپرېل په ۲۰مه او ۲۱مه د قطر په پلازمېنه دوحه کې د بین‌الافغاني تفاهم یوه مهمه غونډه جوړه شي؛ خو د دغې غونډې د ګډونوالو په تړاو شته اختلافات د دغې غونډې د ځنډېدو لامل شول.

افغان حکومت څو ورځې وړاندې د دغې غونډې د ګډونوالو یو ۲۵۰ کسیز نوملړ اعلان کړ، چې ترې سملاسي وروسته طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره پر دغه نوملړ نیوکه وکړه او دا یې په دې لړۍ کې د خنډ جوړولو په معنا وبلل. د غونډې له جوړېدو دوې ورځې مخکې بیا د غونډې د تنظیموونکي بنسټ مشر پر خپله ټویټرپاڼه د دغې غونډې د ځنډېدو اعلان وکړ.

طالبانو د یوې ویناپاڼې په خپرولو سره د دغې غونډې د ځنډېدلو پړه پر افغان حکومت اچولې؛ خو افغان حکومت بیا وایي، چې دا غونډه د قطر د حکومت له لوري ځنډول شوې ده. د ولسمشرۍ ماڼۍ اعلامیه کاږي: «دا چې د قطر حکومت په دې ونه توانیده چې زموږ برحقه غوښتنه عملي کړي؛ نو د قطر حکومت د دوحې کنفرانس لغوه کړ».

په قطر کې د بین‌الافغاني خبرو اترو پلان شوې غونډه، د دغې غونډې د ځنډېدو لاملونه او دا چې د بین‌الافغاني تفاهم هڅې په کوم لوري روانې دي، هغه موضوعات دي چې دلته یې په اړه شننه لولئ.

## په قطر کې بین‌الافغاني مذاکرات

څو میاشتې وړاندې (د ۱۳۹۷هـ ش کال د سلواغې په ۱٦مه او ۱۷ مه) د روسیې په پلازمېنه مسکو کې په لومړي ځل د طالب استازو او یو شمېر افغان سیاستوالو، جهادي رهبرانو او د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون پخوانیو لوړپوړو حکومتي چارواکو ترمنځ د افغان سولې په تړاو یوه بې‌سارې دوه‌ورځنۍ ناسته وشوه، چې په پای کې یې د ګډونوالو له‌خوا ګډه اعلامیه هم خپره شوه.

د مسکو ناسته که څه هم د ملي یووالي حکومت رد کړه او نه یوازې دا چې کوم حکومتي چارواکي رسما د حکومت په استازیتوب ګډون پکې ونه کړ؛ بلکې د حکومت له توند غبرګون او نیوکو سره هم مخ وه؛ خو بیا هم دغې غونډې په پراخه کچه بین‌الافغاني خبرو اترو ته د زمینې برابرېدلو لپاره هیلې راوټوکولې.

د مسکو بین‌الافغاني غونډې د پرېکړې له مخې، د دغې لړۍ دویمه ناسته د قطر په پلازمېنه دوحه کې پلان شوې وه او له همدې کبله بېلابېلو لورو په ځانګړې توګه د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هڅې پیل کړې، څو په دې غونډه کې د افغان حکومت استازي هم ګډون وکړي.

دا چې افغان حکومت په دې غونډه کې د خپلو استازو د ګډون پرېکړه وکړه، د دغې لړۍ د بریالیتوب لپاره یو ارزښتناک فرصت برابر شو؛ خو له بده مرغه په دې تړاو بېلابېل خنډونه د دې لامل شول، چې د اوس لپاره دا غونډه وځنډېږي.

### د قطر غونډه ولې وځنډېده؟

د قطر غونډې ځنډېدل له لویه سره د طالبانو او افغان حکومت د توندو دریځونو زېږنده ده؛ ځکه هم طالبان او هم افغان حکومت په دې هڅه کې دي، چې په دغو خبرو اترو کې خپل برلاسی ځای ثابت کړي. طالبان په دې اند دي، چې له امریکا سره یې خبرې اترې بریالۍ دي او دوی د جګړې د ډګر بریالی لوری دی؛ نو ځکه باید دغه بهیر د دوی په خوښه مخته ولاړ شي؛ خو په بل اړخ کې بیا افغان حکومت، چې تر فشارونو لاندې له طالبانو سره خبرو اترو ته چمتو شوی، نه غواړي دا بهیر د دوی د خوښې خلاف مخته ولاړ شي.

د افغان حکومت له لوري د ۲۵۰ تنو ګډونوالو د نوملړ اعلان، چې ویل کېږي د غونډې له تنظیموونکو سره له شریکولو مخکې د حکومت له‌خوا خپور شو له څو اړخونو د دغې غونډې د ځنډېدو یو اساسي لامل و. لومړی دا چې په دې غونډه کې د طالبانو ۲۵ استازو ګډون کاوه او د حکومت له لوري دومره لوړ شمېر ګډونوال د طالبانو او دغې غونډې د تنظیموونکو لپاره د منلو وړ نه وو. له بلې خوا په دې نوملړ کې داسې نومونه هم لیدل کېدل،

چې گومان کېده د سولې مخالف دریځونه لري او داسې وېره يې رامنځته کړه، چې دا غونډه به ښې پایلې ونه لري.

د افغان حکومت له لوري د دومره لوړ شمېر پلاوي ټاکل کېدو په حکومتي لوري کې د بې‌باورۍ ښکارندويي کوله. دغې غونډې ته د دومره شمېر کسانو ټاکل په دې معنا وو چې ګويا په دې غونډه کې د هېواد راتلونکی واک وېشل کېږي او هر لوری باید غټه ونډه خپله کړي. په داسې حال کې چې دا غونډه د سولې په تړاو د نظرونو شریکولو او نظرونو لنډولو په موخه وه او حقیقت دا دی، چې په دومره شمېر ګډونوالو کې لږ تر لږه نظرونه هم نه شي شریکېدای.

دا چې د افغان حکومت په دریځ کې نرمښت او په قطر کې جوړېدونکې غونډې ته د حکومتي استازو استول تر ډېره د فشارونو په پایله کې وو؛ نو ځکه له لومړي سره داسې اندېښنې وې، چې د حکومتي پلاوي جوړښت به خنډ جوړوونکی وي او له دې لارې به وغواړي خپل مسؤولیت له اوږو واړوي.

**د بین‌الافغاني تفاهم برخلیک**

د ملي يووالي حکومت د حامد کرزي د دورې په پرتله له بېلابېلو لارو زیاتې هڅې وکړې، چې طالبان له حکومت سره مخامخ خبرو اترو ته اړباسي؛ خو دا هڅې تر پایه ناکامې وې او طالبانو تل له امریکا سره پر خبرو اترو ټینګار کاوه.

د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره د قطر پروسې پیل، د افغان سولې په تړاو شته بن‌بست مات کړ او دا پروسه يې یوه جدي پړاو ته داخله کړه. په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ پنځو غونډو او په دغو غونډو کې د دواړو لورو ترمنځ د بهرنيو ځواکونو د وتلو په تړاو نسبي هوکړه خورا هیله‌بښونکې وه. خو د قطر پروسه له لویه سره د افغان حکومت مخالف دریځ په پراخه کچه ننګولې ده.

دا پروسه داسې مهال پیل شوې، چې په روان کال کې ولسمشریزو ټاکنو ته هم چمتووالی نیول کېږي او خپله ولسمشر اشرف غني هم د نوماندانو په لړ کې دی؛ له همدې کبله انګېرنې دا دي چې حکومت ته دا مهال د سولې په پرتله ټاکنې لومړیتوب لري؛ ځکه د ولسمشر د سولې د طرحې له مخې، له طالبانو سره سوله باید د ټاکنو له ترسره کېدو وروسته وشي او لږ تر لږه به پنځه کاله وخت نیسي. همدا لامل و، چې افغان ولسمشر څو ځله په ښکاره د دغو خبرو اترو مخالفت وکړ.

دا چې د ملي یووالي حکومت غواړي پروسه حکومت-محوره وي او طالبان بیا له امریکایانو سره د مخامخ خبرو اترو له کبله ځان د جګړې د ډګر بریالی لوری بولي او غواړي دا پروسه د دوی په خوښه مخته ولاړه شي، له کبله یې د بین‌الافغاني تفاهم برخلیک له ابهام سره مخ شوی دی. دغه وضعیت ته په کتلو سره اوسمهال داسې ښکاري، چې که د دواړو لورو په دریځونو کې نرمښت او تنازل ونه لیدل شي، ښایي د طالبانو-امریکا خبرې اترې هم له ناکامۍ سره مخ شي. له بده مرغه اوسنی وضعیت تر ډېره داسې دی چې له جدي فشارونو پرته ناشوني بریښي، چې د حکومت او طالبانو ترمنځ رغنده خبرو اترو ته دې په اسانۍ سره لاره هواره شي.

## وړاندیزونه

د بین‌الافغاني تفاهم په تړاو د اوسني وضعیت د بدلون لپاره اړتیا ده، چې لاندې ګامونه واخیستل شي:

- له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د ایستلو په تړاو د امریکا د ولسمشر د پرېکړې په پایله کې، په افغانستان کې د سولې د ټینګښت او ثبات د راتګ لپاره له رامنځته شوي فرصت څخه باید د سولې او ثبات د ټینګښت او د جګړې د ټغر ټولولو لپاره کار واخیستل شي او د شخصي او ګروهي ګټو د خوندي کولو د فرصت په سترګه ورته ونه کتل شي. که کوم لوری د شخصي او ګروهي ګټو د ترلاسه کولو لپاره دا فرصت ضایع کوي؛ نو په تاریخ کې به د هغه کړنې له هېواد سره د خیانت په نوم یادې شي.
- د بین‌الافغاني تفاهم په مخ کې لوی خنډ د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بې‌باورۍ ستر واټن دی؛ ځکه نو د دغه واټن راکمولو او باور رامنځته کولو ته کلکه اړتیا ده. په دې تړاو د افغان سیاستوالو هڅې کولی شي اغېزناکې ثابتې شي. له همدې امله افغان حکومت او طالبان دواړه باید د دغو هڅو له لا ډېرې مؤثرتیا سره مرسته وکړي. په ځانګړې توګه د افغان سیاستوالو او حکومت ترمنځ همغږۍ ته جدي اړتیا لیدل کېږي.
- د «افغانانو مالکیت» تر نوم لاندې د حکومت له لوري د سولې ټولې هڅې تر خپل کنټرول لاندې راوستل د دې لامل شوي، چې د بین‌الافغاني تفاهم لپاره د زمینې برابرولو لپاره د نورو خپلواکو لورو هڅې بې‌اغېزې شي او د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د شته بې‌باوریو له منځه وړلو یا کمولو لپاره

ډېر لږ کار وشي؛ له همدې امله دا شعار باید د سولې په تړاو د مؤثرو افغاني لورو د هڅو بې‌اهمیته کولو لامل نه شي.

- د بین‌الافغاني تفاهم پر وړاندې یو خنډ دا هم دی، چې دواړه لوري یو بل په رسمیت نه پېژني؛ افغان حکومت، طالبان د یوې ترهګرې ډلې په توګه پېژني او طالبان بیا افغان حکومت د یوې بې‌واکه او لاسپوڅې ادارې په توګه معرفي کوي. د دغه خنډ د له منځه وړلو لپاره ښه ده چې د بین‌الافغاني خبرو اترو لپاره د طالبانو استازي او د افغان سیاستوالو او حکومت ګډ پلاوی د روغې جوړې خبرې وکړي او په دې توګه دا خبرې اترې یو ملي رنګ غوره کړي او د حکومت او یوې ډلې ترمنځ د خبرو اترو رنګ یې کم‌رنګه شي.
- دغه راز، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بې‌باورۍ د شته واټن له منځه وړلو لپاره دواړه لوري د یو بل پرضد د نامناسبو څرګندونو، منفي تبلیغاتو، بې‌ګټې فشارونو او تورونو لړۍ بنده او په دې توګه د باور د فضا رامنځته کولو ته لاره هواره کړي.
- افغان ولس هم د سولې په تړاو خورا درونډ مسؤولیت لري او د دغې جګړې اصلي قرباني دی. ځکه نو عام افغانان نه یوازې دا چې د یوه او بل لوري په پلوۍ د سولې بهیر په ناکامېدو کې ونډه وانه خلي، بلکې د ښکېلو لورو ترمنځ د باور فضا جوړونې او سالمو فشارونو کې خپل رول ولوبوي.
- د اوس لپاره په قطر کې د بین‌الافغاني ناستې له ناکامېدو وروسته باید په لنډ وخت کې د یوې ورته بین‌الافغاني ناستې تابیا وشي، ترڅو روان بهیر ټکنی نه شي او شته هیلې او امیدونه په نهیلیو بدل نه شي.

پای

# کانکور؛ آزمونی برای رسیدن به تحصیلات عالی در افغانستان



حدود یک ماه پیش پروسهٔ اخذ امتحان کانکور ۱۳۹۷ ـ ۱۳۹۸هـ ش، از فارغان صنوف دوازدهم و چهاردهم، به هدف جذب آنان به نهادهای تحصیلات عالی و نیمه عالی، آغاز گردید که تا کنون در دوازده ولایت کشور سپری شده است.

در این میان هفتهٔ گذشته در ولایت بلخ برای سه روز امتحان کانکور برگزار شد که به شمول پسران و دختران بیش از (۱۴۹۱۴) تن در آن شرکت نموده بودند. با آنکه پروسهٔ کانکور در کل نظر به چند سال گذشته، شفاف ترو منظم تر شده است؛ اما برخی مشکلات تخنیکی، ضعف در تطبیق درست میکانیزم چگونگی اخذ امتحان و وجود فساد در سطح بالا از جمله مواردی اند که هنوز هم پروسهٔ ملی امتحان کانکور را با چالش‌ها و مشکلاتی مواجه کرده است.

چگونگی رسیدن به تحصیلات عالی در افغانستان، پروسهٔ کانکور، مشکلات موجود در این پروسه و نیز این که چگونه می‌توان راه‌حل هایی برای مشکلات موجود در این پروسه پیدا نمود؟ از جمله موضوعاتی اند که در این‌جا مورد بحث قرار گرفته شده اند.

## رسیدن به تحصیلات عالی در افغانستان

برای نخسین بار بنیاد تحصیلات عالی در افغانستان به تاریخ اول عقرب سال ۱۳۱۱هـ ش با تأسیس پوهنځی علوم طبی کابل نهاده شد. در آن زمان این پوهنځی تحت سرپرستی یکی از متخصصین ترکی بنام پروفیسور دکتور رفیقی کامل بیک با هشت تن از استادان آغاز به کار کرد.

در سال ۱۳۲۵هـ ش "پوهنتون کابل" به عنوان نخستین پوهنتون در افغانستان تأسیس شد و با وصف نشیب و فراز ها و سه ونیم دهه جنگ و نام امنی، روی هم رفته تحصیلات عالی درافغانستان طی ۷۳ سال گذشته پیشرفت چشم‌گیری نمود و در حال حاضر حدود ۳۸ موسسۀ دولتی و ۱۳۱ مؤسسۀ خصوصی تحصیلات عالی در سراسر کشور فعالیت دارند که سالانه هزاران تن فارغ‌التحصیل می‌دهند.

بعد از دوازده سال آموزش در مکتب، کانکور آزمونی است که پیروزی در آن، یگانه راهی برای رسیدن به نهادهای تحصیلات عالی و نیمه عالی دولتی در افغانستان می‌باشد. با در نظر داشت ظرفیت جذب نهادهای دولتی تحصیلات عالی افغانستان، کانکور دشوارترین رقابت برای افرادی است که می‌خواهند راهی تحصیلات عالی شوند.

با آنکه بعد از سال ۲۰۰۱میلادي و روی کار آمدن نظام جدید در بخش تحصیلات عالی کارهایی صورت، رفت و تعدا نهادهای تحصیلات عالی و نیمه عالی دولتی بیشتر شد؛ اما با در نظر داشت نقاضای جامعه حکومت افغانستان با چالش‌هایی مواجه است و نمی تواند برای تمام فارغان مکاتب، زمینه جذب به نهادهای تحصیلات عالی و نیمه را عالی مساعد سازد.

از سویی هم در طول ۱۸ سال گذشته، پروسۀ کانکور نیز همانند دیگر بخش‌ها با مشکل موجودیت فساد مواجه بود. ضعف در میکانیزم یا سیستم چگونگی اخذ امتحان، فساد در داخل کمیتۀ کانکور، معیاری نبودن سوالات کانکور، مداخلۀ روزمندان و مقامات دولتی، جعل کاری و غیره از مواردی بودند که شفافیت در پروسۀ کانکور را زیر سوال برده بود و همه ساله افراد با استعداد زیادی، بدلیل موجودیت فساد در این پروسه ازحق شان مبنی بر قبول در فاکولته های بالا، محروم می گردیدند.

هرچند با روی کار آمدن حکومت وحدت ملی گام‌های مهمی در این رابطه برداشته شد و پروسه امتحان کانکور با بایومتریک شدن‌اش تا اندازه ی زیادی بسوی شفافیت رفت، دست مداخله ی روزمندان و مقامات ملکی و نظامی از مداخله درین میدان کوتاه شد؛ اما بازهم مواردی وجود دارد که نیازمند توجه بیشتر می باشد.

## پروسۀ کنونی امتحان کانکور

تلاش برای آوردن شفافیت در پروسۀ امتحان کانکور، یکی از دست‌آوردهای مهم حکومت وحدت ملی می‌باشد. در سال ۱۳۹۵ هـ ش وزارت تحصیلات عالی افغانستان به همکاری مالی برنامه انکشاف بین‌المللی ایالات متحدۀ امریکا برای تشخیص هویت داوطلبان کانکور سیستم بایومتریک را فعال ساخت.

مطابق این سیستم فارغان مکاتب که داوطلبانه در امتحان کانکور شرکت می‌کنند، یک بار قبل از اشتراک در امتحان و بار دوم در جریان امتحان کانکور بایومتریک می‌شوند. این سیستم توانسته است که از ورود افراد عوضی یا افرادی که بجای دیگران در امتحان شرکت می‌کنند، جلوگیری نماید. قبل از تطبیق سیستم بایومتریک برای داوطلبان کانکور، اشتراک افرادی که بجای دیگران امتحان می‌دادند زیاد بود که باعث حق تلفی های زیادی درین عرصه می‌شد.

یکی از موارد مهمی دیگر در پروسه کانکور، بانک سوالات است. در سال‌های گذشته وزارت تحصیلات عالی یک بانک غنی سوالات را نداشت و حتی در امتحان کانکور به سطح هر ولایت، تنها یک کتابچه سوالات آماده می شد که این خود زمینه را برای سوء استفاده و تقلب در امتحان کانکور مساعد می ساخت؛ اما با تطبیق سیستم جدید کانکور، بانک سوالات کمیتۀ کانکور افغانستان نظر به قبل غنی‌تر شد و در حال حاضر حدود ۶۰ هزار سوال ذخیره دارند.

موضوع مهمی دیگر در سیستم جدید امتحان کانکور این است که برای هر داوطلب "یک کتابچه با ID نمبر" مشخص در نظر گرفته شده وسوالاتش در ترتیب بندی محتوا تفاوت های با پارچه های دیگر دارد. به این ترتیب، زمینه نقل در صحنه امتحان صفر گردیده و هر داوطلب مجبور است در فکر حل کردن کتابچه سوالات خود باشد. از تقلب و نفوذ افراد روزمند در پروسۀ امتحان کانکور نیز تا حدی زیاد، جلوگیری شده است.

علاوه از این فصل اخذ امتحان کانکور نیز تغییر کرد، پیش از این فصل امتحان کانکور محدود بود، از یک سوی وزارت بگونۀ درست رسیده‌گی کرده نمی‌توانست او سوی دیگر برخی از ولایت‌های سرد سیر بدون این که امتحان سالانه مکاتب شان را تمام کرده باشند،امتحان کانکور شان برگزار می‌شد. اما با تغییر فصل (از اوایل آغاز سال خورشیدی الی اواخر ماه جوزای همان سال) برگزاری امتحان کانکور، تمام داوطلبان در کانکور اشتراک کرده می‌توانند و کسانی که کامیاب می‌شوند، درس شان در میانه‌های فصل تابستان همان سال آغاز می‌شود.

هرچند پروسهٔ امتحان کانکور نظر به سال‌های قبل تا اندازهٔ زیادی شفاف و معیاری شده اما مشکلاتی هنوز هم وجود دارد که مراجع ذی صلاح باید به آن توجه جدی نمایند.

**مشکلات موجود در پروسهٔ کانکور**

- **فساد:** با آنکه سیستم بایومتریک توانسته است که دست‌های افراد فاسد را در پروسهٔ کانکور تا اندازهٔ بیشتر کوتاه کند؛ اما یافته‌های مرکز مطالعات ستراتژیک و منطقوی نشان می‌دهد که فساد در این بخش بگونهٔ کلی ریشه کن نشده است. به گونه ی مثال: در کانکور شهر مزار شریف که هفته ی قبل منعقد گردید، کمیشن کاران از چند تن داوطلب کانکور بخاطر کامیابی آنان در فاکولته ی طب، در صرافي‌های این شهر از۴۰۰۰ الی ۵۰۰۰ دالر امریکای به امانت گذاشته بودند، تا بعد از اعلام نتیجه پول خویش را بدست آورند.

  همچنان، ضعف مدیریتی هیئت کمیته امتحانات برای کانکور باعث سوء استفاده های برخی از ناظرین و کنترولران محلی در صحنه امتحان می گردد. گزارشاتی رسیده که در جریان امتحان برخی از استادان که به حیث ناظر یا کنترولر در صحنهٔ امتحان حضور می‌یابند، به داوطلبان مشخص بخاطر دوستي یا خویشاوندی یا هم هر رابطهٔ دیگر، نقل می‌دهند که باعث حق تلفی دیگر داوطلبان کانکور می‌شود.

- **ضعف مدیریتی:** کمیتهٔ کانکور وزارت تحصیلات عالی افغانستان با آنکه سیستم خویش را منظم و شفاف‌تر ساخته است؛ اما در چگونگی تطبیق این سیستم یا میکانیزم، با کمبود افرادی قوی مواجه است. در برخی ولایت‌ها برای اخذ امتحان کانکور هیئت و استادان ناظر که از سوی وزارت تحصیلات عالی فرستاده می‌شوند، برخی از آنان یا توانایی تطبیق میکانیزم، رهنمایی به داوطلبان، نظارت و کنترول محل را ندارند و یا هم از تنبلی و غفلت نمی‌خواهند متعهدانه کار کنند. در این صورت بیشتر داوطلبان بدلیل نبود رهنمایی درست و درک مفهوم در امتحان و انتخاب رشته ها اشتباه می‌کنند که باعث از حیف شدن دوازده سال زحمت ایشان می‌شوند.

  در این مورد نیاز است که وزارت تحصیلات عالی افراد توانا و متعهد را به حیث هیئت یا هم ناظر در امتحان کانکور روان کنند.

- **معیاری نبودن سوالات کانکور:** یکی دیگر از مشکلات امتحان کانکور که هنوز هم پا برجا است، معیاری نبودن سوالات امتحان می باشد. بگونۀ مثال در میان سوالات کانکور ولایت بلخ برای فارغان مدارس دینی و دارلعلوم برخی سوالاتی از علوم طبیعی که مربوط به صنف‌های دوره ثانوی مکتب می‌شد، آورده شده بود. در حالی که داوطلبان مدارس دینی مضامین عصری را تنها تا صنف نهم می‌خوانند. نیاز است که کمیته محترم کانکور ازین به بعد در زمان تهیه سوالات دقت بیشترنموده تفاوت های سیستم تعلیمات اسلامی با تعلیمات عمومی را در نظر بگیرند.
- **مشکلات طباعتی:** چاپ و نوع نوشته (Font) کتابچه‌های سوالات یکی از مشکلاتی مهمی است که داوطلبان را در اخذ مفهوم سوال با مشکل روبرو می‌کند. هر چند که در صحنه امتحان استاد ممتحن حضور می‌داشته باشد؛ اما او استاد شاید تنها در یک رشته تخصص داشته باشد نه در همه بخش ها! به همین دلیل لازم است که کمیتۀ امتحانات برای کتاپچه‌های سوالات از نوع نوشته یا فونت‌های دری و پشتو استفاده کند. همچنان نیاز است که کتابچه‌های سوالات قبل از چاپ درست و دقیق تصحیح شوند، تمام اشتباهات املایی و انشایی آن گرفته شود، تا داوطلبان درروز امتحان با مشکل مواجه نشوند.

پایان

**ارتباط با ما:**
**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com
**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net
**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590
**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com
**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com